
ليکوال:
افراز خان خروټي
که لار در څخه ورکه ده
راپسې سه !
ناول !

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د کتاب ځانګړنې**

**د کتاب نوم:که لاره در څخه ورکه ده راپسې سه!**

**لیکوال:افراز افغان**

**ډالۍ:خپل پلار او اکا ته ځکه هم دا ریښتني کیسه د هغوی ده او په خاصه توګه خپلو والدینو ته.**

## که لاره در څخه ورکه ده راپسي سه!

په ټولګۍ کې ناست وم، د ریاضي ساعت و، ریاضي مې د خوښې مضمون هم و، د تفریح زنګ ووهل شو، زه، ورور او ټولګیوال مې د ټولګۍ څخه راووتلو، زه او ورور په سپیره ځمکه کښیناستولو او د درس په اړه مو یو له بل څخه پوښتني کولي، زه او ورور مې ټولګیوال هم و، د تفریح د ماتیدو زنګ ووهل شو ټوله خپلو ټولګیو ته ولاړو زه او ورور مي هم ولاړو.

ټولګۍ ته ولاړو د پښتو مضمون ساعت و، استاد د کورني کار غوښتنه وکړه، بیا یې پوښتني وکړي، ما او ورور مې صحیح ځوابونه

ورکړل، چا چې به صحیح ځوابونه ورکړل، هغه به کښېنستل او هغه چا چې به غلط ځوابونه ورکول هغه به ولاړ و، په ټوله ټولګی کې زه او ورور ناست و، نور ټولګیوال ولاړ و، ځکه دوئ درس نه و زده کړی، استاد هر یوه ته سزا ورکړه، وروسته مو نوی درس شروع کړ، د درس وروسته یې کورنی کار راکړ، د ټولګیوالو په کورني کار لیکنه به ما کوله او په سبا به مې دوئ ته تسلیم کړ.

د دوی کورني کار په لیکلو سره هر یوه یوه اټانی(پخوانی پیسي نیمه افغانی)راکول کله چي رخصت شو نو هر یوه کورني کار راته تسلیم کړد لیسي څنګه ته هوټل وو، په رخصتي به شتمن خلک هلته تلل تر څو خواړه خوري، مګر موږ به سپیري شونډي ګرځیدو، زما مور به موږ ته ۱۰ افغانی په دواړو راکولي، پنځه افغانی د یوه پنځه د بل هغه به هم د لاري کرایه شوه او پاته به مو بیرته مور ته ورکولي تر څو د ژوند اړتیاوي لاسته راوړو.

زه او ورور مي د کور په لور روان شو په لاره کي مو بس ته پورته شو چي پرسر یي ۲ افغانی اخیستي او په سیټ کي به یي ۵ افغانی اخیستي کورته ورسیدو د کورنی له غړو سره مي روغبړ وکړ، د ښونځی جامې مو بدلې کړي ،د تل په څیر هغه ماما چي د تعلیم څخه بد وړل د هغه نوم

(عبدالمالک)وو مور. به ماما ورته ویل، ماما(عبدالمالک) مي بیا مور ته ویل:دا درس او تعلیم هیڅ ګټه نه کوي زه به یي مستري کړم.

مګر بل ماما چي عبدالرزاق نومیدی مور. به ابا ورته ویل هغه هر وخت زمور. سره په درسو کي کومک کوی او هر وخت به یي ویل:درس وایاست بچیانو په راتلونکي کې به یو شی درڅخه جوړ شي.

مازدیګر مي استاذي نیولي وه په یوه شتمني کورنۍ کي، مازدیګر به هلته تلم او مور مي خیاطه وه ځکه څوک نه وو چي کومک وکړي پلار مي هم شهید شوی وو، زه د والیدینو لومړی اولاد وم، نو په همدي خاطر مي خپلي کورنۍ ته د ژوند توکي برابرول.

ماښام به مي خپل درس او د ټولګیوالو کورني کارونه لیکل د هر یوه به مي خط زده کړی وو تر څو استاد پري ونه پوهیږي، همداسي ورځي تیریږي او کلني امتحانونه په رارسیدو دي، تقسیم اوقات مي ولید اول امتحان ریاضي وه، ریاضي امتحان سخت نه وو ځکه ما به هره ورځ د ریاضي درس په کور کي تکراروی، د پنسل پیسي راسره نه وي، مور ته ورغلم مور مي ویل:پیسي نشته زویه، ابا ته ورغلم، د پیسو غوښتنه مي وکړه، هغه هم ویل پیسي نشته، ټول د کورنۍ غوړو ته مي وویل خو د هیچا سره پیسي نه وي، د کور څخه راووتم چي ۲ بیتری پیداکړم او وتوژم یي تر څو د پنسل کار ځیني واخلم، دوه داني مي پیداکړي، یوه مي ورور او بله مي خپله واخیسته.

ټوله ورځ مې کار کړی وو، ستړی وم، زړه مې غوښت چې ویده شم خو سهار مې د ریاضي امتحان وو، په ټوله کور کي تاريكه وه، يوازي په تشناب کي يو ګـروپ وو، ما او ورور مې په تشناب کي درس وويل،

سهار د لمانځه کولو وروسته لږ ويده شوم، وروسته سهار راويش شوم، د سبا ناري کولو وروسته مور مي ما او ورور لس افغانی د لاري كرايه راكړل، په لاري بس ته وختلو مکتب ته ورسيدو، هر چا خپل د امتحان د ضرورت شيان لرل، مګـر موږ هیڅ نه لرل، امتحان شروع شو، سوالونه مي په ځير ځير وکتل، پارچه مي حل کړه وروستـه مي استاد ته ورکړه.

ورور ته په انتظار كښيناستم، ټول همصينفيان مي راووتل، دوی خپل په منځ كي د امتحان د سوالو په اړه خبري کولي، مګـر زه او ورور هیچا په صنف کي نه خوښولو ځکه يتيم او غريب سره ښه چلند نه کیده، ورور مي راغلی، د امتحان پوښتنه مي ځيني وکړه هغه ويل: ښه وه ما ورته وويل: زما د هم ښه وو، دواړه د کور په لور روان شو بس سر ته وختلو، کورته ورسيدو، د کورنۍ له غړو سره مو روغبړ وکړ، ابا پوښتنه وکړه:بچيانو امتحان څنګـه وو؟ما او ورور مي دواړو ځواب ورکړ:ابا مننه امتحان مو پخير تير شو، بيا يي وويل: سوالونه سخت وو که اسانه وو؟ما او ورور وويل: ښه وه آسانه وه.

مازدیګر به مي د تل په څېر استاذي کوله، او ماښام به خپل درس ته کښېناستم، په همدې ترتیب هره ورځ مي په همدا طریقه ټول امتحانونه ورکړل.

نتایج په دا سبا اعلان کیدل، سهار د ناشتي وررسته د کورنۍ د غړو سره مي خدای پاماني وکړه، په لاره بس ته وختلو، مکتب ته ورسیدو، یوه همصینفي هم راسره روغبړ ونه کړ ځکه زه او ورور مي یتیم او غریب وو، پروګرام شروع شو، د هر صنف اول، دوهم او دریم نومره اعلانېدل، وار زموږ د یولسم صنف شو، د زړه درزا مي زیاته شوه، مګر مطمئین وم چي کامیابه یم، په همدي فکر کي زما د نوم په اخیستلو سره د خیالي نړۍ څخه راووتم، چکچکي شوي، مګر بیله وروره مي یو ټولګیوال مي هم چکچکي نه کولي، سټیج په لور ولاړم، اول نومره شوی وم، د استاد لاس مي ښکل کړ او استاد زه په سر ښکل کړم، یوه ډالی او خپله نتیجه پاڼه یي راکړه، بیرته خپل ځای ته راغلم، نورو ته مي کتل هر یوه خپل ټولګیوال ته مبارکي ورکوله مګر ما ته هیچا مبارکي رانه کړه حتا خپل خپلوان چي په همدي مکتب کي وو، ورور مي هم دوهم نومره شوی وو، د تیر ځل په څېر بیله ما زموږ په ټولګیوالو کي هیچا چکچکي ونه کړي، ورور ته مې هم ډالۍ او نتایج پاڼه ورکړه.

پروګـرام ختم شو، ټول د خپلو کورونو په لور روان شو، ټولګـیوالو ټولو بد بد ما او ورور ته کتل، مګـر ما په دوی کي هیڅ فکر نکوی، د کور په لور روان شو، په لاره بس ته وختلو، کورته ورسیدو،لومړی مي ماما(عبدالمالک)ولید، ماما ته د اول نومره کیدو زیری مي ورکړ، بیا ما او ورور د هغه لاس ښکولوی، مګـر هغه لاس راڅخه ایسته کړ او ویي ویل:خود به اول نومره کیدي ولـي به نه اول نومره کیدي، ما هم څه ونه ویل ځکه دا زما لومړی ځل نه وو اوس اموخته وم، ابا ته مي نتایج او ډالۍ ورښکاره کړه، ابا ویل:شاباس پچیانو درس وایاست په راتلونکي کي به یو څه درڅخه جوړ شي، ډالۍ ما او ورور دواړو خلاصه کړه، یو پنسیل پنسیل پاک او پنسل تراش وو، د کورنۍ غړي او زه هم ډیر خوشحاله وو، د تل په څیر مازدیګـر استاي ته ولاړم ، ماښام د لمونځ کولو او ډوډي خوړلو وروسته ټول ویده شول، زه هم خپل د خوب ځای ته لاړم خوب نه راته، د شپي تر ناوخته ویښ وم یو وخت مي سترګـي سره تللي وي.

یو وخت مي د مور غږ واورید چي وي ویل: پورته شه د سهار لمونځ وکړه، زه هم پورته شوم اودس او لمونځ کولو وروسته بیرته ویده شوم، سهار د اتو بجو په شاوخوا راویښ شوم، د سبا ناري کولو په وخت مي د ورور ناري واوریدل، هغه کرکټ کوی مګـر اواز یي دلته راتله، مور مي هره ورځ ورته ویل: لږ کرارې خبري کوه، د سبا ناري کولو وروسته ما

هم د دوی سره کرکټ شروع کړ، مازدیګـر به د تل په څیر استاذي ته تلم، ماښام به مي خپل درس د ځان سره تکراروی، مګـر حیران دلته وم، ورور مي تر ما ډیر له درس سره شوق وو مګـر بیا هم زه اول نومره شوم.د دوبي رخصتیاني هم تیري شوي، دولسم صنف شروع شو، سبا مکتب شروع کیدی، د مکتب د ضرورت وړ توکي مي اماده کړل، په سبا مکتب ته لاړم، ټولګـیوالو بد بد راته کتل، مګـر ما فکر نه په کي وهی، اول سات د انګـلیسي وو، استاد راته د کتابو وویل، مګـر ما او ورور د کتابو پیسي نه لرلي، مکتب اوله ورځ ښه تیره شوه، زموږ یو ګـاونډي هم د دولسم صنف څخه تازه زموږ د مکتب څخه فارغه شوی وو، دوی ته مي وویل: ستا کتابونه ما ته راکړه، زما هم اخیري کال دی، هغه هم کتابونه راکړل، ډیر خوشحاله وم، نور مي یوازي یوې کتابچي ته ضرورت وو، هغه مي هم پیدا کړه، نور مي د پخوا په څیر خپل درسونه ویل.

ما او ورور مي په دواړو په یوه کتاب کي درس ویل، مازدیګـر به د تل په څیر استاذی ته تلم.

وخت په تیریدو سره څلور میاشتني امتحانونه را ورسیدل، امتحانونه مي د تیر ځل په څیر ورکړل، دا واري اول نومره مي ورور شوی وو، دوهم نومره زه شوم، دریم نومره مي یو بل ټولګـیوال شوی وو.

رخصتياني هم خلاصي شوي، مکتب شروع شو، د مکتب د شروع کيدو سره به موږ هم هره ورځ مکتب ته تلو، ورځي تيريدي، ګـوزاره مو کيده.

کلني امتحانونه راورسيدل، اول امتحان مو جغرافيه وه، د ورځي مي ټوله ورځ کار کوی، مازديګـر به استاذی ته تلم، ماخوستن به کله چي ټوله ويده شول، زه او ورور به مي په تشناب کي يوه ګـروپ ته درس زده کوی، ټول امتحانونه مي ورکړل، نتايج په سبا اعلانيدل.

نتايجو ته زه او ورور ورغلو، ټولګـيوالو بيخي راته کتل لانه، ما هم فکر نه پکي وهی، دوئ يوه کوچنۍ ميله جوړوله مګـر ما او ورور نه شوای کولای په دې ميله کي برخه واخلو، ځکه ما او ورور يتيم او غريبان وو، پروګـرام شروع شو، د ټولو صنفو نتايج يي وويل، وار زموږ د صنف شو، دا واري مو هيڅ چورت نه پکې وهی، ځکه خواري مو کړي وه، د پروګـرام مخته وړنکي داسي وويل: ستاسو په فکر څوک به د دولسم ټولګـي اول نُمره وي؟ ټولو ټولګـيوالو خپل منځو کي ګـوتي ونيولي، پروګـرام مخته وړونکي وويل: اول نومره توراب خان دی، ټولو چکچکې وکړي بغير د ټولګـيوالو ما هم چکچکو ته زور ورکړ، ورور

مي ور ولاړ شو، ورور ته مي شهادتنامه نتايج پاڼه او يوه کوچنۍ ډالۍ يې ورکړه، پروګرام مخته وړونکي وويل: دوهم نُمره به څوک وي؟ ټولو ټولګيوالو مي په خپلو منځو کي ګوتي ونيولي، پروګرام مخته وړونکي وويل: دوهم نُمره جمال خان دی، زه هم ور ولاړ شوم، د تير ځل په څير بيله ټولګيوالو ټوله مکتب چکچکي کولي، سټيج ته ورسيدم، د استاد لاس مي ښکل کړ هغه په سر ښکل کړم، ما ته يې هم شهادتنامه نتايج پاڼه او يوه کوچنی ډالۍ راکړه، دريم نُمره مي بل ټولګيوال وو، پروګرام ختم شو، ټول د خپلو کورونو په لور روان شول، موږ هم خپل د کور په لور روان شو.

په کور کي مي لومړی ابا وليد، ابا ته مي نتيجه پاڼه وربښکاره کړه، هغه هم ډير خوشحاله شو، ټوله کورنۍ غړي مي خوشحاله وو، زه هم خوشحاله وم، ورځي تيريدي د کانکور امتحان هم په رارسيدو وو، ما او ورور دواړو کانکور ازمويني ته ښه امادګي ونيوله، نوم ليکنه مي وکړه، لومړی انتخاب مي سياسات کړ، دوهم مي کمپيوټر ساينس کړ، ورور مي اول انتخاب کمپيوټر ساينس کړ، ورځي تيريدي په سبا امتحان وو.

سبا د کانکور امتحان ته ورغلو، دواړو ښه پارچه حل کړه، يوه هفته وروسته نتايج راورسيدل، لومړي انتخاب (سياسات) ته کاميابه شوی وم او ورسره مي د کمپيوټر کورسونه هم ويل، په کور کي مي ټولو ته زيری ورکړ، ټول خوشحاله وو، د سبا څخه مو درس شروع کيدی، سبا د سبا

ناري كولو وروسته  پوهنتون ته لاړم، د پوهنتون وروسته مازديګـر استاذي ته لاړم.

دوه کاله وروسته د سیاساتو او کمپیوټر د کورسو څخه فارغه شوم، د پوهنتون اخیري ورځ مو ولمانځل، مازدیګـر استاذي ته لاړم، په سبا په کار پسي وګـرځیدم، تر غرمي پوري پسي وګـرځیدم مګـر هیڅ ځای مي کار پیدا نه کړ، ډیر ناهیلی وم، مازدیګـر استاذي ته ولاړم، د شاګـردانو اکا  وویل: ولي داسي خوابدی ایسي؟ ما وویل: تر غرمي په یو کار پسي ګـرزیدم، مګـر پیدا مي نه کړه، هغه وویل: پروا نه کوي ستا لپاره ښه خبر لرم، ما وویل: څه خبر لري؟ هغه وویل: زه به تا دوبی ته بوزم، ته به له موږ سره کار وکړي، زموږ د کالو په دوکان کي به حساب او کتاب کوي،

معاش دي هم ښه درکوو، خوښه پر تا اړه لري، څنګـه به مي یا ورته ویل ما په آسمان غوښت خدای په مځکه راکړ، ما وویل: زه به د کورنۍ سره مشهوره وکړم، د شاګـردانو د کور څخه مي خدای پاماني واخیسته، کور کي مي ټولو ته ددي په اړه وویل: ټولو رضایت وښود.

مازدیګـر مي د شاګـردانو اکا ته د کورنی د رضایت په اړه وویل هغه هم وویل: په یوه هفته کي ستا ویزه مکملو، ما وویل: زه پاسپورټ نه لرم هغه وویل موږ یي تا ته جوړو، تر ډیره مو بانډار سره وکړ، د شاګـردانو د اکا

ځخه مي خدای پاماني وکړه، کور کي مي ټولو ته ددي په اړه وويل، ټوله خوشحاله وو، د شاګـردانو اکا په يوه هفته کي هر څه مکمل کړ، سبا مو پرواز وو، هغه هم دوبی ته تلی، په کور کي مي د ټولو سره تر ناوخته باندار وکړ، سهار د کور ځخه د راوتلو په مهال مي د ټولو سره خدای پاماني مي کول، ټولو په سترګـو کي اوښکي وي، ما هم ډاډ ورکړ، د دشاګـردانو د اکا سره هوايي ميدان ته په موټـر کي ولاړم، د بکس او پاسپورټ د کتلو وروسته انتظار ځای ته ولاړو، طياره راغله، دواړه وروختلو، ما ته خوب نه راته، ويش وم مګـر د شاګـردانو اکا ښـه ويده وو، ما هم سترګـي سره ورغلي، يو وخت د شاګـردانو اکا راويش کړم، د طياري ځخه کښـته شو، د دوکان په لور ولاړو، د کار په اړه معلومات يي راکړ، يوه کوټـه مي هم کرايه کړه، سهار تر سبا ناري کولو وروسته د دوکان په لور ولاړم، تر دوو بجو پوري مي کار وکړ، د غرمي د ۲ بجو وروسته د کمپيوټـر کورسو ته لاړم، په پنځه بجي راغلم، د پنځو بجو ورسته تر د ماخوستن تر دولس بجو به مي په دوکان کي حساب او کتاب کوی، د ماخوستن دولس بجو ځخه تر دولس نيمو مي يو چا ته درس وايه.

دري کاله مي په دوبی کي تير کړل، نور مي د شاګـردانو د اکا ځخه غوښـتنه وکړه چي کابل ته لاړ شم، او يوه بله دنده راوسپاره، هغه هم ومنل، کابل ته راغلم، په کابل کي د شاګـردانو اکا يو ايټـالوي ماشين راوړی وو، چي ډېري يي ماتولي، د هغه ماشين سره يي ايټـالوی هم راوستی وو، ځکه په هغه ماشين هغه ايټـالوی چي نوم يي مکاريو وو ښـه

پوهیدی، زه د هغه ترجمن او د کمپنۍ حساب او کتاب زما سره وو، زه به د مکاریو سره په یوه اپارتمان کې چې د شاګردانو د اکا وو اوسیدو،کله چې به د کار څخه راغلم نو ما به افغاني کالي اغوستل، یوه ورځ د هم ویل چې ما ته د کالي واخله، بازار ته لاړو، کالي مي واخیستل، کور ته راغلو، د په خپله کوټه کې کالي واغوستل، کله چې راووتی نو پردوګاش یې نه وتړلی، بیا مي د پردوګاش چم وروشوی، بله ورځ بیا په تشناب کې یې پرتوګاش غوټه اخیستي وه هغه مي په غچي ور پرې کړه، بله ورځ اوداسه ته روان وم، دی راغلی زه اودس کوم دی راته ګوري، ما وویل: څه وایې؟ ده وویل: ما ته ستاسو اودس ښه خوند راکوي که څه هم عیسوي یم، زه د تشناب په لور روان شوم دی هم راپسې وو، ما وویل: څه کوې؟ ده وویل: ستا اودس ته ګورم ما وویل: ځه ولاړ شه، تشناب ته څوک نه ورځي.

په کابل کې مي یوکال تیر کړ، وروسته کندهار ته راغلم، شپږ میاشتې په کار پسې ګرځیدم، مګر دنده مي پیدا نه کړل، اخیر یو چا د ډاکټر صدیق الله سره معرفي کړم چې د ورور په شان همکاري یې وکړه، د دندي غوښتنه مي وکړه، هغه هم په دوو ځایو کې دنده راته پیداکړه، یوه په یوناما کې او بله په یون وو لوجیسټیک کې په دنده وګمارل شوم، د یون وو کې مي یو کال کار وکړ، په یوناما کې مالي او اداري اډمین وم، یو کال وروسته پروژه ختمه شوه، وروسته د یوناما د بیا رغوني پروژې ته لاړم، وروسته په ۲۰۰۷ کال کې د سیاسي چارو مسوول شوم، په ۲۰۱۲ کال کې اوردون ته لاړو، چې د عراق کلتور باندې یې پوهولو په اوردون کې مي ۱۵ شپې وکړې، وروسته عراق ته ولاړو، یو څو میاشتې مي هلته تیرې کړي، وروسته بیرته خپل وطن افغانستان ته راغلم.

ټولنيز پيغام: موږ د  ستونزو سره مقابله ده. يعني بايد هيڅکله د خپلو هيلو پر شا نه شو او هيڅکله ستونزو ته اجازه ورنه کړه چې موږ ته ماته راکړي، زموږ خوبونه ربښتيا کيږي،

که چيري موږ په شجاعت سره هغوئ تعقيب کړو!

# پاي